# تاريخي واقعات
# درست پېش کول پکار دي

رحمت شاه سائل

"تاريخي واقعات درست کړ ليجئے" دا د محترم افتخار الدين خټک صاحب د ۲۵ ستمبر ۲۰۰۹ د يو کالم عنوان دے چې په مشرق اخبار کښې خور شوے دے. د خټک صاحب مطالعه بېشکه د منلو وړ ده خو هغۀ شايد د خپل علم او مطالعې په زور نۀ يوائې د تاريخ سره سرزوري کړې ده، بلکې اوس هم هغه د يو بې ځايه طرفدار په حېث د پښتنو د خطا کولو يو کوشش کړے دے.

ما به د پښتو يو متل اورېدو چې "د ابۍ زوئے بې قسمه قسمي وي" ما به وې چې کوم سړے خټک وي او د تاريخ مطالعه ئې دغسې او دومره وي نو کۀ نور هيڅ نۀ وي نو يو پښتون دوست سړے خو کېدے شي خو خبر نۀ وم چې دا عقيده خو به د خوشحاليانو په مطالعه د ټکنيټوب نخښه نخښانه وي.

زما په شان ډېرو ليکونکيو وخت په وخت په دې موضوع ليکل کړي دي او وئيلي ئې دي چې پښتونخوا د دې صوبې پخوانے نوم دے، دا دې بحال کړے شي. د دې دوېم مطلب دا دې چې دا علاقه څۀ نن پرون يا د انګرېز په وخت کښې نۀ ده پېدا شوې بلکې د دې خپل نوم ؤ هغه بحالول پکار دي. ما په خپله په يو مضمون کښې دا هم ليکلي ووو چې کله د صوبې د نوم دپاره امکانات پېدا شي نو دلته يو څو پښتون دښمنه ليکونکي خپله دغه فريضه په دې طريقه سرته ورسوي چې په دې صوبه کښې د نورو ژبو او نورو قامونو فهرستونه په داسې انداز کښې پېش کړي لکه چې په دې نورو صوبو کښې نۀ نورې ژبې شته او نۀ نور قامونه او يا دا چې مونږ ګني د خپلې صوبې د نورو ژبو دښمنان يو او يا ګنې مونږ د انګرېز د ورکړي نوم د بدلولو په ځائے لګيا يو دا صوبه وېشل غواړو. اوس اوس چرته اباسين يوسفزي د صوبې د زوړ نوم د بحالۍ خبره کړه ده او په دې افتخار الدين خټک د حېرانتيا اظهار کړے دے او په خپل کالم کښې ئې ليکلي چې د دې صوبې پخوانے نوم څۀ ؤ؟ دے ليکي چې په ماضي بعيد کښې دا خطه د باميان پورې ګندهارا وه او په دې مناسبت سره د بت تراشۍ په فن کښې ګندهارا آرټ په دنيا کښې شهرت لري. بيا وائي چې خو زمانې اړخ بدل کړو دغه فن او بدھ ازم منلو والا د دې ځائے نه ختم شو"

خټک صاحب دا نۀ دي ليکلي چې دغه د بدھ ازم منونکي څوک وو، آيا چرته بدها د بل ځائے نه د

ځان سره راوستي وو او کهٔ د دې خاورې خپل اوسېدونکي خلق وو او کهٔ خلق وو قوميت ئې څهٔ ؤ؟ خو ګندهاريان وو، په اصل کښې ګندهارا د پېښور داسې زوړ نوم دے لکه چې په يو وخت کښې ئې باګرام هم نوم ؤ، په دې حقله رحمان بابا وائي چې:

هم نغمې کاندی هم رقص کا هم خاندی
د رحمان په شعر ترکې د باګرام

په اصل کښې ګندهارا آرټ په پېښور يعنې ګندهارا کښې پېدا شو. د ټېکسلا نه واخله تر چينه تر باميانه او نورو نورو ځايونو ته ورسېدو. دغه آرټ چې خټک صاحب ورته د بت تراشۍ فن وائي د بدها نه ډېر وروستو شروع شوے دے. د کنشکا په دور کښې شروع شوے دے چې دغه خلق بادشاه او رعايا تقريباً د بدهـ ازم منونکي وو. زهٔ بُت هغې ته وايم چې خالص ورته سجده کېږي او دغه شے زهٔ مجسمې ګڼم. ځکه چې په دغه کښې هغوي د بدها تعليمات او د هغهٔ ژوند ريکارډ کړے دے او دا په دومره لوئے تعداد کښې دي چې تهٔ به وائې دلته د دې مجسمو فېکټرۍ وې. دغه ډېر باريک کارونه ټول په ګوتو او لاسو په اوزارو شوي دي. دغه مجسمې چې د مجلسونو او تقريرونو په شکل کښې نن هم زمونږ په ميوزيمونو کښې په لږ کم تعداد کښې شته خو دغه معلومات ترې ممکن کېدے شي. د دغې تهذيب چې ټېکسلا خو څهٔ چې د پښتنو ټول غرونه ترې ډک دي، نهٔ يواځې پرې پښتانهٔ د خپل تهذيب او آرټ دعوي لري، بلکې دنيا هم دغه تهذيب د دغې خلقو د ماضي په توګه پېژني. نن هم چې په پښتنو کښې څوک په هيڅ نهٔ پوهېږي نو خلق وائي چې فلانے په هيڅ سدهـ بدهـ يا شدهـ بدهـ نهٔ دے. د دې نه علاوه په پښتو کښې يوه ټپه موجوده ده چې د پخوانو خلقو نه سينه په سينه تر دې رارسېدلې ده چې وائي:

رب دې دستې تر نهنګ تېر کهٔ
د کرشنا په مانړو ناسته ډوبه شومه

د خټک صېب په خدمت کښې عرض دے چې نن هم د پېښور ځنې ځيزونه لکه د پېسې لوښي، د اندر شهر کالي پترې او پېښورۍ پنې يو شهرت لري. دغسې د تخت بائي کباب او د چارسدې څپلۍ ډېر زيات شهرت لري. دا څيزونه اګر چې د ګندهارا آرټ سره پرتله کول مناسب نهٔ دي هغه يو بيل حېثيت لري، ولې د مثال په توګه پېش کول ئې ګناه هم نهٔ ده. ګندهارا آرټ د پښتنو خپل کلچر دے خو دغه نوم د پښتنو د يو ځائے نوم دے.

د بدها منونکي هم د بدها د تعليماتو نه معلومېږي چې غېر متشدد خلق وو يا ئې جنګ نهٔ دے کړے او يا دغه زمانه د يو بل نه د وطنونو نيولو زمانه وه. سپين هنان په وسله زورور وو او دا خلق ئې وهلي دي او يا بيا د بدها د منونکيو په حېث دوه ډلې شوې دي او ګټونکې ډلې د تشدد په ذريعه دغه خلقو ته شکست ورکړے دے خو خټک صېب مونږ ته په دې کښې څهٔ تعليم راکول غواړي سېوا د دې نه چې پښتون د خپلې خاورې نه د تاريخ په رڼا کښې بې دخله وساتي او يا کهٔ ئې د بدها سره تړي نو د بدهـ مذهب د منونکي په حېثيت ئې د خپل قامي وجود نه شوکول غواړي. بيا خټک صېب ليکي چې او بيا ئې په تاريخ کښې دي ته روه ووې خو وائي چې د دې حدود د دريائې سندهـ اخوا شمېرلے کېدهٔ وائي چې څوک به هندوستان ته لاړهٔ

نو هلته به ورته افغان پټهان او روهیلے وئیل کېدۀ او روهېلکنډ ئې اهم ځائے ؤ.

په دې کښې شک نشته چې دا هم د پښتون مختلف نومونه دي او دلته کوهستانونه هم شته او نن هم د پاکستان دننه او بهر اکثر پښتون ته خلق خان وائي خو نۀ خو خان د پښتون د قامي وجود ځائے نیولے شي او نۀ کوهستان د پښتنو د وطن نوم کېدے شي سره د دې چې دا صوبه دغسې د غرونو ډېرې سلسلې لري. بیا وائي چې د ۱۹۰۱ پورې دا صوبه د پنجاب حصه وه خو خټک صېب دا نۀ وائي چې د ډیورنډ د کرښې نه مخکښې دا صوبه چرته وه؟

بیا هم عرض دا دے چې ۱۹۰۱ء خو د پرون خبره ده څۀ د پاسه څلور سوه کاله مخکښې چې خوشحال وائي:

نوره واړه پښتونخوا په ځائے مېشته وه
خو یو زۀ دې زمانې پکښې منصور کړم

نو دا خوشحال بابا په خوب کښې اورېدلي وو کنه دا وه پښتونخوا او کۀ هغۀ پښتونخوا د اکوړي نه تر نوښاره ګڼله او کنه دغه شعر د خوشحال خان خټک نۀ دے چا ورپورې هسې تړلے دے.

محترم خټک ته دې معلومه وي چې دغه شعر د هغۀ د یوې داسې اوږدې قصیدې شعر دے چې دا هم څوک نۀ شي وئیلے چې دا به پکښې بل چا ور اچولے وي، بیا هغۀ پښتونخوا د پښتون د کور په حېثیت استعمالوي. د ټولې پښتونخوا نه د هغۀ مطلب د پښتون ټول پښتانۀ دي. پښتونخوا هغه د یو داسې علامت په توګه استعمالوي چې د پښتون بچے بچے پرې پوهېږي. پښتونخوا دغه وخت هم نۀ د اکوړي یا نوښار دوېم نوم دے او نۀ د پېښور یا بل ځائے دوېم نوم!

محترم خټک صېب دا هم وائي چې کۀ د دې صوبې نوم پښتونخوا ؤ نو دې له ئې شمالي مغربي صوبه نوم ولې کېښودو، دا خو دې خټک صېب د پېرنګیانو نه پوښتنه وکړي چې هغوي دا صوبه د افغانستان نه ولې بېله کړې وه او بیا دې ترې دا تپوس هم وکړي چې تاسو چې دا د شپږو زرو میلو نه دلته راتلئ د دې خړ سرو خلقو په وطن مو قبضې کولې نو ستاسو خپل ملک نۀ ؤ؟

خټک صېب دې له هم ډېر زور ورکړے دے چې یاد لرئ یعنې اې پښتنو! یاد لرئ چې تاریخ مونږ د افغان په نوم پېژني، د پښتون په نوم نۀ.

اوس کۀ زۀ د دغې تاریخي حوالې په رڼا کښې محترم خټک ته پښتون نۀ وایم نو اګر چې ګرم به نۀ یم خو شاید چې دغه خبره به د هغۀ په نفسیاتو درنه پرېوځي ځکه چې د هر پښتون نفسیات په پښتون کلچر کښې د زرګونو کالو نه نشوونما موندې ده او یو حد ته رسېدلي دي.

خو زما عرض دا دے چې کۀ چاته روهیلے وئیلې شوے دے کۀ افغان او کۀ پښتون او کۀ پهټان دا ټول یو پښتون دے، دا ئې وطن دے، دا ئې خاوره او دغه ئې قوم دے. خبره تشه په نومونو نۀ ده آیا د دې ټولو نومونو سره وابسته خلق پښتو ژبه نۀ وائي، کلچر ئې د پښتنو نۀ دے، دا قام په دغسې نومونو تقسیمول درسته رویه هرګز نۀ ده او زۀ به د تاریخ مننه کوم چې ما کم از کم کۀ په پښتون نۀ پېژني نو په افغان خو مې پېژني.

باید چې خټک صاحب مونږ له د هغۀ په قول د چودري رحمت علي افغانیه نوم چې الف ئې د

پاکستان په نوم کېږي دے د هغې غوښتنه وکړي خو د پښتونخوا په مخالفت کښې دي کم از کم تاریخ نۀ مسخ کوي. خټک صېب کۀ د تاریخ تفصیل ته تلۀ غواړي نو چې پښتو کلاسک ادبیات او د هغې د تاریخ مطالعه هم ضروري وګڼي او دا معلومه کړي چې شعر ته چې کوم لفظ راځي هغۀ ډېرې زمانې نه د خلقو په ذهن کښې ځائے نیولے وي، ځکه د لفظ یا نوم سره د بنده په ذهن کښې هغه د خپلو ټولو معنو سره تصویر کېږي او یو منظر او پس منظر ئې هم په ذهن کښې جوړېږي او رګ وېد کۀ هر څو د هندوانو مقدس کتاب هم دے خو دا په بنیادي توګه د آریایانو کتاب دے. خو په دغه کتاب کښې کۀ هغوي د سندهو، سواستو او کرومو و غېره دریابونو ذکر کړے دے نو د هغه وخت جغرافیائي صورت حال هم د نظره نۀ دي غورځول پکار. د دې کومو سیندونو ذکر چې کوي دا هم د پښتونخوا د علاقو سیندونو دي او په دغې رګ وېد کښې د پښتنو د ذکر سره پکتیکا یا پختیکا هم شته باید چې خټک صېب د افغانستان د پخواني تاریخ مطالعه هم وکړي.

خټک صېب یوه تاریخي حواله پېش کړې ده چې زۀ پرې هیڅ نۀ پوهېږم. هغه وائي چې د بهارت نه راغلي "ابررو" مهاجرینو کښې یوسفزي، خټک، اپریدي او بنګش وغېره ټول راغلي دي خو هغه ځان ته افغان یا پټهان وائي. پښتون نۀ وائي ځکه چې هغوي پښتو نۀ وائي کمال دے چې د بوټو خاندان ذکر خبر کوي نو وائي چې د بوټو خاندان د بهر نه راغلے او دلته اباد شو الغرض څوک هم چې هلته راغلۀ او اباد شو نو ځان ته ئې سندهیان ووې مګر خپل قومي شناخت ئې برقرار وساتۀ، یعنې د بوټو صاحب قومي شناخت بوټو دے او د خټک صېب قومي شناخت خټک دے، سوال دا دے چې سندهي قوم دے کۀ بوټو یا یو قبیلوي نوم قومي شناخت دے کۀ افغان یا پښتون.

هسې خو تاریخي حوالې نورې هم ډېرې دي. خوشحال څلور سوه کاله مخکښې د پښتونخوا ذکر کوي په ۱۷۷۳ء کښې احمد شاه بابا، هېروډوټس په خپله سفرنامه کښې په ۴۲۵ ق.م کښې د دې قوم او علاقې ذکر کوي او فرانسیسي محقق ډارمسټېټر په ۱۸۸۶ء کښې د دې خاورې په شعر و ادب تحقیق کوي او کتاب نوم د پښتونخوا د شعر هار او بهار ږدي.

هسې افتخار الدین خټک صېب له کۀ په دې حقله بې طرفه پاتې کېدۀ ممکن نۀ وو نو چې بیا د دغسې تاریخ ورانولو د پاره په دې مېدان نۀ وے ولاړ ځکه چې دۀ خو کۀ خپل ځان په چا لوستو نو یو علمي او تاریخي اعتبار ئې هم لرۀ، په دې کالم کښې خو دۀ د پښتون دوستۍ په نوم داسې د پښتون دښمنۍ مظاهره کړې ده چې سړے د تعجب د سرحدونو نه هم اوړي. دا عجیبه پښتو او پښتونولي ده چې په پښتنو ئې خپل شناخت هم نۀ پېرزو کېږي. په این ډبلیو ایف پي کښې یا په سرحد نوم کښې دے څۀ خوږې تښې خوشحاله ګرځي او د پښتونخوا په تش نوم پرې هم ساه ډوبې راځي.

صد افسوس دے چې پوره عبدالله نۀ کړه
چې خوشحال په کوم صفت دے یار زما